پوهاند دوکتور م.ا.زیار

اکسفورډ، جون۰۷

## اغلو ښاغلو هممورچلو ملګرو او دوستانو!

څومره ویاړ او سرلوړي چې د زمان د ازمون بټۍ د امبار امبار تورو ایرو له خوګلنه څو مخسور راوتي پولاد هوډي غورځاوڼ سره غاړې وځي او د تر شا پاتې نیمژواندو سویو مکوټو پرګنو د لاربنۍ نیمسوی لوغړن رپی له سره پر رپا راولي!

او دادی، نن  د هغو پرګنو پر وړاندې د خپلو نیمګړو ژمنو دتاندېینې او ربښتیاینې لپاره سره په ټول پولادي هوډ او وېلاړ  یوځل بیاراغونډېږي او په همدغه پاکه او سپېڅلې موخه او ارمان یوه لاپرله غښتي او پیاوړي یوون او ټرون ته مټې رانغاړي.

زه پر خپل وار د افغانسان اینده غورځنګ د یوه لاروي او د اړوند خپرني اورګان(( اینده)) د چلوونکي په توګه د ځان او کتنپلاوي له خوا د دغې تاریخي غونډې رابلنه او رغونه د خپل بې بلونجه(بې بدیله) سیاسي سازمان د بشپړتیایي بهیر یو نوی پړاو ګڼم او په دې توګه ګردو غورځاوڼواو بیا هڅاند او نوښتګر سرلاري  ملګري دوکتور عبد اله نایبي ته مرغه ښه او مبارکي وایم.

زموږ د مخکښ سیاسي غورځنګ د کړنلارې او تګلارې(مرامنامې او اساسنامې) نوښتګرانه  کوټلې او اوډلي اډانې (طرحې) چې د دغې پرتمینې غونډې اره او بنسټیزه سکالو یې رغولي،په ټوله ماناد یوه بشپړ نوي چپي ګوند د رغاونې زېری راکوي. په د غو بنسټیزو لاسوندو یو اوډلی ستر سیاسي رغښت به هرو مرو دا ایمان او باور  نور هم پسې راغښتلي کړي چې پر باطل د حق او پر ناپوهۍ د پوهې د برلاسۍ یو قانونمندانه لاره روده مو پر مخ راپرانېستل شي.

موږ د اینده مهالنۍ پازوال او همکار ملګري پر خپل وار د نننۍ ویاړلې غونډې د تاریخي پربکړو او لاسوندونو له هراړخیز پخلي او ملاتړ سره دخپل مشرتابه پر وړاندې داتېنګه ژمنه کوو چې د هغو د ترسروني او براینې په لار کې  ټولې

هاند و هڅې پر کار واچوو او د سربښندنو تر بریده یې د خپل ورځني ژوند و ژواک یو نه جلاکېدونې برخه وګرځوو.

وړاندې د اسکېرلو او ښکېللو پرګنو د ژغورو هوساینې په موخه له سپېڅلو ارمانونو سره!

ستاسې د ټولو د برې په هیله- مننه

پوهاند دوکتور مجاوراحمد زیار د اینده مهالنی چلوونکی

www.ayenda.org